د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

د موضوعي پاڼو لړۍ

# په هره بيه سوله ؟

## په افغانستان کې پخلاينه او بيا پيوستون



تزرينه سجاد

د ۱۳۸۹ کال د تلې مياشت

AREU

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې په هکله

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې میشته یوه خپلواکه څېړنیزه اداره ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالي درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څېړنو له لارې پرپالیسۍ او چارومثبتې اغیزې او دمعلوماتو پراخول دي.

همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه د څېړنې پایلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسیدو لپاره نوموړې اداره د پالیسي جوړونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کونکو سره ددوی د څېړنېزې وړتیا د پیاوړې کولو او ددوی په مینځ کې د دې ادارې د څېړنو او کتابتون څخه د ګټه اخیستنې دترویج په موخه ښکیل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

نوموړې ادارې په ١٣٨١لمریز کال په افغانستان کې د بوختو مرستندویه ټولنو په مرسته یې په کار پیل وکړ اود یو مدیره پلاوې درلودونکې ده چې د بسپنه ورکونکو ټولنو له خوا لکه ملګرې ملتونه او نورو څو اړخیزو ادارو، او نا دولتي ادارو له خوا یې استازیتوب کیږي. نوموړې اداره اوس مهال خپله اصلي بودجه د ډنمارک ، فنلند، ناروی، سویډن، سویزرلند او د انګلستان دحکومتونو څخه تر لاسه کوي. د افغانستان د پرانیستې ټولنې د انستیتیوت (FOSIA)، ایشیا فوندیشن (TAF)، اروپایي کمیسیون (EC)، او د نړیوالې پراختیا لپاره د څېړنیز مرکز (IDRC) له خوا ددې ادارې له ځانګړو پروژو سره مالی مرستې کیږي.

ژباړونکی : سعیدالله "ربنتین"
طرح او ډیزاین: وکیل وسیم

د پوښ انځور:د ١٣٨٩ کال د غویي په میاشت کې د هرات او فراه په ولایتونو کې د طالبانو پخواني غړي خپلې وسلې د افغان حکومت چارواکو ته سپاري. د پوښ انځور د فریدون پویا (د ملګرو ملتونو کارکوونکي) لخوا اخیستل شوی.

© ١٣٨٩ د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره. ځینې حقونه خوندي دي.دغه خپرونه ښایي د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې او د لیکوال د لیکلې اجازه لیک د تر لاسه کولو سره بیا خپره، د موندلو وړ سیستم کې زیرمه او یا یواځې د غیر-سوداګریزو موخو لپاره ولیږدول شي. چیرې چې دغه خپرونه بیا خپره، زیرمه او یا د بریښنایي لارې لیږدول کیږي، د افغانستان د څېړنې او ارزونې دادارې د ویب پاڼې اړیکه باید ذکر شي www.areu.org.af. او ددې خپرونې په کارول له نوموړې موافقې پرته ، د خپرونکې یعنې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې مخکینې لیکلې اجازه لیک ته اړتیا لري. دغه اجازه لیک کیدای شي د areu@areu.org.af او یا د ٠٠٩٣٧٩٩٦٠٨٥٤٨ شمیرې سره د اړیکې له لارې تر لاسه شي.

## د ليکوال په هکله

تزرينه سجاد له ۱۳۸۰ کال راهيسي د انتقالي عدالت، د بشر دحقونو او د شخړو د شنني په برخه کې کار کوي. هغې تر دې وړاندې د نړيوالو چارو لپاره د ملي ډيموکراتيک انستيتيوت، د پاتي شونو د حقوقو له نړيوال سازمان او کارتر سنټر سره کار کاوه. نوموړې د ۱۳۸۴ او ۱۳۸۵ کلونو تر منځ د افغانستان لپاره د نړيوالو حقوقو د ګډ پروګرام (Global Rights) په برخه کې هم دنده لرله. او"دا تر منځ واټونه : د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کميسيون، او د انتقالي عدالت په برخه کې د هغې ونډه" دمضمون ليکواله ده چې په ۱۳۸۸ کال کې د انتقالي عدالت په نړيوالې مجلې کې خپور شو. د نوموړې له جګړې وروسته د بيا رغونې، انتقالي عدالت، د بشر حقونه او جنسيت په تناقض کې ځېرنيز مضامين په ګڼو علمي مجلو او کتابونو کې خپاره شوي دي. اوسمهال سجاد د واشنګټن ډي سي په يوه امريکايي پوهنتون کې د نړيوال خدمت په پوهنځي کې د عدالت او معافيت د پوښتنو په اړه د خپلې دوکتورا تيزس بشپړوي.

## مننليك

ليکواله د نوموړي راپور د جوړيدو په هکله د څو کسانو د ارزښتناکو مرستو څخه مننه کوي. که څه هم نومونه يې يادداى نشي خو ليکواله دټولو هغه کسانو څخه د زړه له کومي مننه کوي چې د نوموړې څېړنې د ترسره کولو لپاره يې د ډيرو بوختياوو سره سره د مرکې وخت ورکړ. نوموړې څېرنه، د افغانستان د پخلاينې اوبيا پيوستون د پروګرام، په افغانستان کې د روانو فعاليتونو، او په هيواد کې د پخلاينې او بياپيوستون د رښتينې ليدلورې په برخه کې د نوموړو ګډون کوونکو له بصيرت، نظريو، انديښنو او هيلو پرته نه شوه ترسره کيداى. ليکواله له هغو بيا کتونکو څخه ځانګړې مننه کوي چې دلومړنۍ مسودې په اړه يې ارزښتناکه نظريې او رغنده نيوکې وړاندې کړې. په پاى کې ليکواله د افغانستان د څيړنې او ارزونې د ادارې له ډلې : سارا پارکينسن، شاپور اميني، جي لمي، لورا کيم، هدايت الله او د هغه له ډلې څخه د نوموړي راپور د جوړيدو په بهير کې د لوژستيکي مرستو، همغږۍ او تصحيح له کبله او همدا راز د چونا ايچاويز د آراموبحثونو او پيرزوينې څخه د زړه له کومي مننه کوي. پداسې حال کى چې نوموړي راپور تر ډيره ځايه د پورتنيو کسانو د معلوماتو څخه زياته ګټه اخيستې خو هغه يکې وړاندې شوي نظرونه او ليدلورې زما خپل دي.

تزرينه سجاد  
د ۱۳۸۹ کال د زمري مياشت

## اجرائيوي لنډيز

افغانستان په جګړه کې ښکيل دی. زياتيدونکې بلواګري، له جګړې څخه د نړيوالې ټولنې ستړيا، او د اوسني ناوړه وضعيت په وړاندې د غبرګون لپاره پر افغان حکومت د زياتيدونکي فشار له کبله ونډه وال د زياتي پيچلي او مخ په زياتيدونکې جګړې په وړاندې د اغيزمنو ځوابونو د پيداکولو لپاره هلې ځلې کوي. په دې وروستيو کې ديوې پوځې متحدې او د ملکي ملاتړ څخه برخمنې ستراتيژۍ اړتيا احساسيږي چې د دوه غابښي کړنلارې پر بنسټ به په داسې حال کې چې د بلواګرو له لوړ پوړو مشرانو سره د بيا پخلاينې له لارې د يو سياسي جوړ جاړي په لټه کې وي به عادي طالب جنګيالي هم راجذب کړي. د افغانستان د سولې او بياپيوستون پروګرام چې د زياتيدونکې بلواګرۍ د په نښه کولو په موخه رامنځته شوئ د ۱۳۸۹ کال د غبرګولي په مياشت کې د ولسمشر کرزي لخوا لاسليك او پخپله د افغانانو او افغان مشريزه بهير په توګه وړاندې شوچې له ۱۳۸۰ کال راهيسې په افغانستان کې د پخلاينې او بيا پيوستون له بل هر پروګرام څخه زيات پراخه وسيله ګڼل کيږي.

د افغانستان د سولې او بياپيوستون اوسنی پروګرام د لوړو هيلو يوه ستراتيژي ده چې د پخلاينې او بيا پيوستون د پخوانيو پلې شوو او تر ډيره ځايه نابرياليو پروګرامونو لکه د بې وسلې کولو، ملکي کولو او بيا پيوستون (DDR)، د ناقانونه وسله والو ډلو لمنځه وړلو (DIAG) او د سولې د غښتلې کولو د پروګرامونو په برخه کې ځينو نيوکو ته ځواب وايي. نوموړې ستراتيژي افغاني ادارو، د سيمه ايزې حکومتدارۍ جوړښتونو، ځايي فعالانو او ټولنو ته د مشرتابه ډيرې ونډې ورسپاري. او همدا راز دوګړو اوټولنې دامنيت او ستونزو د حل اوفصل په ګډون د بيلابيلو پلې کوونکو مرستندويانو تر منځ اړيکو او همغږۍ ته زيات پام اړوي او له بلواګرۍ سره د خلکو ديوځاي کيدو تر شا د پرتو لاملونو د پيژندلو او هغې ته درسيده ګۍ لپاره هڅه کوي.

نوموړې څېړنې په افغانستان کې د ستراتيژۍ په اړه د شته نظرونو او انديښنو په راغونډولو، او په هيواد کې د پخلاينې او بيا پيوستون د بهيرونو په وړاندې د ننګونو په اړه د مهمو ونډه والو په نظرونو او لرليدونو باندې تمرکز کړی دی. د نوموړې څېړنې معلومات د ۱۳۸۹ کال د وري- غويي مياشتو تر منځ په کابل او واشنګټن ډي سي کې د بيلابيلو افغان او نړيوالو ونډه والو سره د نيمه جوړښتي مرکو او غير رسمي خبرو اترو اود ۱۳۸۹ کال د چنګاښ تر مياشتې د ستراتيژۍ په اړه د موجودو اسنادو او د رسنيو د راپورونو څخه راغونډ شوي دي.

نوموړې څېړنه څو انديښنې راسپړي. د افغانستان د سولې او بيا پيوستون د پروګرام ستراتيژي په دې انګيرنې ولاړه ده چې بيا پيوستون ښايي د شخړو د کمښت لامل شي، ښايي د ګډون لرونکو ګوندونو تر منځ به د يو ښه باور په فضا کې ترسره شي او داچې ياغيان په کې بې وسلې کيږي نو ښايي د ښو امنيتي پايلو او د قانون د واکمنۍ د غښتلې کيدو لامل شي. دې سره جوغت نوموړی پروګرام په دې انګيرنې هم ولاړ دی چې د ياغيانو مشران به ښايي د ځينو هڅوونکو د وړانديز لکه د ښښنې، او په دريم هيواد کې د ميشتدو له امله د افغانستان له حکومت سره « پخلاينې» ته ليواله وي. دغه انګيرنې ناسمې دي. پخلاينه او بيا پيوستون ښايي دواړه په متقابل ډول تقويه کوونکې نه وي(يعنې د شخړې پيچلتيا ته په پام سره سره د وسله والو د بې وسلې کولو مبارزه په حتمې ډول د مذاکراتو ميز ته د سياسي مشرتابه د راښکلو لپاره د لازم اعتماد درامنځته کولو لامل نه شي کيدای، او نه به هم په يوازې توګه سياسي مذاکرات دا پايله ولري چې زيات شمير عادي طالب جنګيالان بې وسلې کړي. تر هغه وخته چې د جنګياليو د بيا پيوستون لپاره کافي ملاتړ وړاندې شوی نه وي او دواړو لورو ته د باور او اعتماد د رامنځته کولو له لارې (چې د سياسي جوړ جاړي لپاره لازم دي) د بلواګرو دمشرتابه او د افغانستان د حکومت تر منځ د دښمنۍ اړيکو په عادي ټولنيزو اړيکو بدلون نه وي موندلی نو پخلاينه او بياپيوستون به بري ته ونه رسيږي.

سربيره پر دې ، د افغانستان د سولې او بيا پيوستون په اوسنې پروګرام کې د اقتصادي فرصتونو او سياسي خبرو اترو وړانديزونه هغو يو لړ پيچلو فکتورونو ته چې د اوسنۍ بلواګرۍ لامل دي په پوره توګه رسيدګي نه شي کولی لکه د افغانستان د حکومت له خوا د کړو ژمنو نه تر سره کول، د نړيوالو ځواکونو په وړاندې کرکه، د بلواګرو د ګمارلوبنيادي کول، د ياغيتوب په ليکو کې د ملاتړ کوونکي- موکل داړيکو رامنځته کيدل ، او په بلواګرۍ کې د بهرنيو فعالينو ګډون او د هغې په مالي ملاتړ او پلان جوړونه کې د هغوی ښکيلتيا

. پداسي حال کې چې داسي ښکاري د امریکا د متحده ایالاتو په ګډون د افغانستان حکومت او مهم نړیوال ونډه وال د»پخلاینې» او «بیاپیوستون» د اصطلاحاتو په برخه کې یوه ګډ توافق ته رسیدلي دي خو ددې دواړو بهیرونو د ترتیبولو په هکله یې ترمنځ اختلافات پاتې دي. د افغانستان حکومت په دې باور دی چې د جګړې د پای ته رسولو لپاره د یاغیانو د بې وسلې کولو او د هغوي سره سیاسي خبرې اترې باید په یوه وخت کې پیل شي، او برعکس نړیوال ونډه وال په ځانګړې ډول د امریکې متحده ایالات د عادي جنګیالیو د بې وسلې کولو لپاره هوډمن ښکاري خو په اصل کې د هغه چا په وړاندې چې د ۱۳۸۰ کال راهیسې د دښمن په نامه یادیږي د کورنۍ جبهې د سیاسي حساسیتونو له کبله د بلواګرو د مشرتابه سره د سیاسي خبرو اترو د ملاتړ په اړه له خورا زیات احتیاط څخه کار اخلي. همدا راز له یوځي نظره داسي یو باور وجود لري چې سیاسي خبرې اترې یواځې هغه وخت ممکني او باید ترسره شي کله چې بلواګرې په بشپړه توګه کمزورې شوې وي. اوسني نازك وضعیت ته په پام سره د افغانستان دسولې او بیاپیوستون د پروګرام د ظاهري بریا لپاره دنومړو بهیرونو د ترتیبولو په برخه کې ددواړومقامونوپخلاینه ډیره اړینه ده.

مرکه شوو کسانو د دا شان هر اړخیزو او پیچلو عملیاتو په تر سره کولو کې د اوسنۍ افغان اداري د وړتیا، د ځواك د بیا راغونډولو او سیاسي ژمنتیا په هکله یې د پام وړ شك څرګند کړ. د ستراتیژۍ په اړه ددې ځیړنې د ځواب ویونکو تر مینځ زړه نا زړه توب او د راز ساتلو کچه نه یواځې د یوې واحدې کړنلارې پرنشتوالي بلکې د بیلابیلو ونډه والو تر مینځ چې زیاتره به یې په نیغه دنومړې پروژې په مالي ملاتړ او یا پلې کولو کې ښکیل وي د باور او اعتماد پرنشتوالي هم زیات ټینګار کوي.

نومړې ځیړنې د ملي او نړیوالو فعالانو تر منځ هغه ګډ نظر هم په ډاګه کړ چې د افغانستان د سولې او بیا پیوستون پروګرام د نړیوالې ټولنې لخوا د هرې هغې ګړندۍ «کټونکي ستراتیژۍ» د ملاتړ لپاره یو ناوړه وړاندیز دی چې پرې خپل پوځیان به بیرته کورونو ته ستانه کړي. او دا خبره له هغه زیاتیدونکي آند سره هم مل ده چې د افغانستان د سولې او بیا پیوستون پروګرام د افغانانو خپله او د افغانانو په مشرۍ یوه ستراتیژي نه بلکې هغه په حقیقت کې له بلواګرۍ سره د مبارزې (COIN) د ستراتیژۍ یوه برخه ده نو له همدې کبله د نړیوالو پوځي ځواکونو تر کنټرول لاندې ده. په پای کې د ځیړنې ځواب ورکوونکو وویل پداسي حال کې چې نومړې ستراتیژي به د بسپنه ورکوونکو ټولنو سره کومه ستونزه ونه لري خو ځانګړو زمینوي فکټورنو ته د رسیده ګۍ په برخه کې بشپړه نه ده او په دې توګه به په عمل کې تمه کیدونکي پایلې ونه لري.

په پای کې، نومړې راپوردا تاییدوي چې اوسنۍ سیاسي وضعیت زیات شمیر عملي خندونه رامنځته کوي. په حقیقت کې د افغانستان د سولې او بیا پیوستون د پروګرام په پلي کیدو سره به هر څوکوکولای شي چې د بیلابیلو ډلو او وګړو له خوا، په سیالۍ کې د بایللو د ګواښ د کمولو لپاره د ترونونو د بدلون او د حکومت د واك د کمزوري کولو دهڅو د دوام وړاندوینه وکړي همدا راز نومړۍ راپور څرګندوي چې له یاغیانو سره پر «سولې کولو» او»پخلاینې» څرګند تمرکز په دې معنی دی چې دغه ستراتیژي د شخړې د قربانیانو غوښتنو ته د اغیزمنې رسیده ګۍ په برخه کې پاتې راغلې. د عدالت څو اړخیزه ماهیت ته له پوره پاملرنې پرته، چې افغانان یې غوښتونکي دي او د پخلاینې «ربښتینې» بهیر ته اړین دی لا تر اوسه د افغانستان د سولې او بیاپیوستون پروګرام بنایي د سیاسي غوښتنې(کټو) یوه بله کړنه وګڼل شي. د نومړې ځیړنې د موندونو پر بنسټ، لاندیني اووه وړاندیزونه هغو کسانو ته چې د افغانستان د سولې او بیاپیوستون د پروګرام له بهیر او د سولې او پخلاینې له پراخو مسایلو سره بوخت دي وړاندې کیږي:

## ۱. د روڼوالي زیاتول او د همغږۍ تضمین

د ستراتیژۍ د اړونده بهیرونو د روڼوالي، او د بیلابیلو ونډه والو تر منځ د یوې ډیرې همغږې کړنلارې د رامنځته کولو لپاره باید همغاړې هلې ځلې ترسره شي. نړیواله ټولنه په دې اړه چې څه ممکن دي او دوی د کوم څه د ملاتړ غوښتونکي دي باید له ګډو(ناټاکلو) دریځونو څخه ډډه وکړي .د امریکې د متحده ایالاتو ځواکونه او نړیوال سوله ساتي ځواکونه باید په ګډ ډول د ستراتیژۍ د بیلابیلو فعالانو سره یوځای کار وکړي او د ملکي ادارو څخه په خپلواك ډول فعالیتونوڅخه لاس واخلي.

## ۲. د سولې او بیا پیوستون د پروګرام د پلي کولو په برخه کې دافغانستان حکومت ته د ټینګو اصولو رامنځته کول

بسپنه ورکوونکو ته لازمه ده چې د سولې او بیاپیوستون د پانګې څخه د ملاتړ لپاره د خپلو مالي ژمنو لپاره ټاکلي شرایط رامنځته کړي، او د افغانستان حکومت ته لازمه ده څو د ځانګړو اوجدي اصولو د رامینځ ته کولو له لارې دا ډاډ تر لاسه کړي چې په نوموړي بهیر کې بیلا بیلې ښکیلې ادارې د امکان تر حده په اغیزمن ډول خپلې ستراتژیکي موخې تر لاسه کوي. د بسپنه ورکوونکو تر منځ ډیر ورته والی به دا تضمین کړي چې د افغانستان د سولې او بیا پیوستون د پروګرام پلي کیدل او پایلې یې خورا اغیزمنې او پاییدونکې دي.

## ۳. د ځایي واقعیتونو پیژندل او د تمو اداره

هغه غوښتنې چې د افغانستان حکومت څخه یې د ترسره کیدو هیله کیږي ډیرې سترې دي خو واقعیت دادی چې د روانو شخړو په شرایطو کې دولت نوموړو ترتیب شوو غوښتنو لست ته د ځواب ورکولو په وړاندې ډیر زیات کمزوری دی. د ونډه والو لپاره مهمه ده چې په عمومي ډول د افغانستان د سولې او بیاپیوستون د پروګرام او سیاسي پخلاینې د وړاندې ویل شوې اړه وړتیا(امکان) کم کړي او تمې د هغې سره سمې اداره کړي.

## ۴. د خبرو اترو د یوې پیاوړې او هراړخیزې ستراتیژۍ رامنځته کول، د افغانستان د حکومت د خبرو اترو د ظرفیت غښتلی کول او د یو اغیزمن منځګړي لپاره د ونډې په پام کې نیول:

نړیواله ټولنه باید د یو داسې دقیق او حساس انډول کوونکي عمل ترسره کولو ته دوام ورکړي تر څو د حکومت پر کړنو له اغیزې پرته په ممکنه خبرو اترو کې د افغانستان د حکومت کمزورتیا تشخیص کړي. پر مخکینو شرطونو د نړیوالې ټولنې څرګند ټینګار به د یاغیانو د مشرتابه له خوا د افغانستان له حکومت سره د خبرو اترو د ردولو په مانا وي. ښایي د ښکیلتیا یو ډیر اغیزمن حد د خبرو اترو د یوې پیاوړې ستراتیژۍ د فکتورونو له تشخیص، د سیاسي خبرو اترو لپاره د ځانګړو شاخصونو درلودونکي مهال ویش په ټاکلو او دافغان حکومت د خبرو اترو د وړتیا د پیاوړې کولو لپاره د چټک پلان شوي کار له پیل سره به مرسته وکړي. نړیواله ټولنه کولای شي چې په یوه هراړخیزه او روښانه ستراتیژۍ کې د بشر د حقونو او د ښځو د حقونو د سازمانونو پر ګډون او توافق هم ټینګار وکړي. نوموړي سازمانونه په دې هکله چې دهغوی په غیاب کې به د دوی وروستی لاس ته راوړنې له ګواښ سره مخامخ شي په ژوره توګه اندیښمن دي.

ملګري ملتونه باید یو استازی او یا د کارپوهانو یوه ډله وټاکي تر څو د افغانستان له حکومت او نړیوالې ټولنې سره د اغیزمنو خبرو اترو د ترسره کولو د کاري چوکاټ او لارو چارو د رامنځته کولو په هکله په ګډه کار وکړي او د یو داسې باوري او اغیزمن منځګړي د ټاکلو په برخه کې مرسته وکړي چې هم وکړای شي د افغانستان د حکومت او یاغیانو تر منځ، او هم د اړتیا په وخت کې د افغانستان د حکومت او د بهرنیو فعالینو تر منځ سیاسي دریځ ایراد کړي.

نړیواله ټولنه باید د نوموړو مهمو پرمختګونو څخه د څارونکي» ساتونکي سپي» په څیر عمل ته دوام ورکړي، د خبرو اترو په بهیر باندې ثابت فشار وساتي او د مدني ټولنې د فعالانو څخه ملاتړ ته دوام ورکړي تر څو په رامینځ ته کیدونکو شرایطو کې د هغوی دریځ پیاوړی کړي.

## ۵. د سیمه ایزې ستراتیژۍ رامنځته کول او د بهرنیو فعالانو د ونډې په نښه کول

د یوې څرګندې سیمه ایزې ترتیب شوې ستراتیژۍ نشتوالی د امریکې په بهرنۍ پالیسي کې د افغانستان د ونډې او موقف په اړه انګیرنې، اندیښنې او بدګومانۍ رامنځته کوي. د امریکې د متحده ایالاتو لپاره دستراتیژۍ په واسطه دسیمې دسیاسي وضعیت سمول پدې معنې دي چې له ایران سره ډیپلوماتیکي اړیکي رامنځته کړي، په افغانستان کې د پاکستان او هندوستان اندیښنو ته د یو بل د ښکیلتیا په هکله پام واړوي او د افغانستان په خاوره کې د کشمیر پر سر د جګړې د بندولو لپاره پرهغوي فشار راوړي.

## ۶. د ښځو د قربانیانو غوښتنو ته پاملرنه

نړیواله ټولنه باید د افغانستان پر حکومت خپل فشارونه زیات کړي تر څو د عدالت موضوع ته په یو روڼ او هراړخیز ډول رسیدګي وکړي؛ د ښځو د پاتې شونو څخه د ګټې اخیستنې او د افغانستان د سولې او بیاپیوستون د پروګرام په پلې کولو کې د ځواک د بې ځایه کارولو څخه مخنیوی وکړي؛ اوټول هغه کسان د واک له ګدۍ څخه ګوښه کړي چې د ځواکمنو د ګټو لپاره د سیستم څخه ګټه پورته کولو ته دوام ورکوي. په افغانستان کې د سولې، پخلاینې او عدالت شته عملیاتي پلان یو داسې واقعي سند دی چې د اغیزمنو اداراتو د رامنځته کولو پر څرنګوالي د تمرکزتر څنګ د قربانیانو زیات شمیر غوښتنې هم په پام کې نیسي. د افغانستان حکومت باید د نوموړي سند په برخه کې خپلو ژمنوته یو ځل بیا کتنه وکړي او د کړو وعدو د ترسره کولو د څرنګوالي په اړه په ډیر دقت فکر وکړي. د یو ربښتینې او ځواب ورکوونکې میکانیزم د رامنځته کولو لپاره باید هلې ځلې ترسره شي. چې دغه کار به هم د ملي عملیاتي پلان ژمنې او هم به د افغانانو تر منځ د داسې یو میکانیزم لپاره پراخې غوښتنې څرګندې کړي.

## ۷. له افغانستان سره د یوې اوږدمهالې ژمنې لپاره تیاری

«خپل هیواد ته د ځواکونو دبیرته ستنیدنې» د فشار او شخړې ته د پای د ټکي د اینښودلو د لیوالتیا سره سره نوموړي هیواد سره د نړیوالې ټولنې د ژمن پاتې کیدلو او نه پاتې کیدلو د کچې په اړه یوې کره ارزونې ته اړتیا ده. یو پیاوړی افغان دولت په یوه یا دوه کلونو کې جوړیدای نه شي او غوښتنې هم باید محدودې شي. سربیره پر دې د یو بشپړ په شا تګ (وتون) پر ځای د نوموړي هیواد سره د سیاسي، اقتصادي، قانوني او ټولنیز پرمختګ سره د مرستې لپاره یو اوږدمهاله ژمنتوب ته اړتیا ده.

د دغې خپرونې نسخې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې له دفتر څخه په وړیا توګه تر لاسه کولاي شئ:


د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

د ګل پلورلو سړک ( د واټ څنګ) نوی ښار کابل، افغانستان

ټلیفون: ۰۷۹۹ ۶۰۸ ۵۴۸ (۰) ۹۳+

برښنالیک: areu@areu.org.af

برښنا پاڼه: www.areu.org.af